ځکه چې
وړ دي

دجاپان د

مصبوعاتی حبر

## د افغانستان د مرکزی احصایی اداری او د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق د بامیانو ټولنیزه-دیموګرافی او اقتصادی سروی پایلی خپری کړي

کابل، د ۱۳۹۱ کال د غبرګولی د میاشتی ۱۰مه نیټه

د افغانستان د مرکزی احصایی عمومی ریس ښاغلی عبدالرحمن غفوری ، د ملګرو ملتونو د سازمان د وګړو صندوق د کابل دفتر رییس ډاکټر لورینټ زیسلر او د جاپان د سفارت د اقتصادی مرستو کنسل ښاغلی ماکوتو ماتسودا د ۱۳۹۱ کال د غبرګولی د میاشتی په ۱۰مه نیټه د افغانستان د مرکزی احصایی په مطبوعاتی تالار کی غونډه درلوده. غونډه د بامیانو ولایت د ټولنیزه دیموګرافی او اقتصادی سروی د پایلو د خپرولو او شریکلو په اړه جوړه شوی وه .

ښاغلی غفوری د غونډی ګډونوالو ته وویل چی دغه کار د افغانستان د احصایی په تاریخ کی یوه مهمه او په زړه پوری پړاو دی. د سروی د پایلو دغه ستره کچه له ۱۹۷۹ کال راپدیخوا د افغانستان د احصایی ستر ریکارډ بلل کیږی. ښاغلی غفوری په خپلو خبرو کی زیاته کړه چی د احصایی مرکزی اداره به هڅی کوی چی خپل ظر فیتونه پیاوړی کړی چی په ښه توګه پلان جوړونه، د معلوماتو راټولول، د معلوماتو په سمه توګه تجزیه او پروسیس ترسره کړی سره لدی نوموړی اداره به د پروژې ارزیابی او څیړنه د معلوماتو او پلان پربنسټ پرمخ بیايي. ښاغلی غفوری د بسپنه ورکونکیو ادارو څخه وغوښتل چی د پاتی ۳۱ ولایتونو په سروی کی له مرکزی احصایی سره ملاتړ وکړی. او همدارنګه یی زیاته کړه چی د احصایی مرکزی اداره به د افغانستان د ټولو ولایتونو سروی په ۲۰۱۴ کال کی بشپړه کړي.

د سروی په تخنیکی ملاتړ کی ښاغلی غفوری د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق له اداری څخه مننه وکړه، او له جاپان حکومت څخه یی دغه سروی ته د بودجی ورکولو او د ډنمارک دولت د نقشی او طرحی د جوړولو په پروسه او په بامیانو کی د ټولو کارونو او فعالیتونو څخه مننه او درناوی وکړ. ښاغلی غفوری د بامیانو ولایت له محترمه والی څخه د دی د هڅو او ژمنو څخه چې د دغو آمارو په وسیله د خپلو خلکو ژوند ښه کړی مننه وکړه.

دغه سروی د نفوس شمیرنی او اقتصادی شاخصونو په اړه معلومات برابروی چی د ولایت د اوږدمهاله پرمختیا لپاره خورا مهم دی، دغه سروی د ښځی او نر،عمر،ښوونه،مړینی،دندی،د څښاک د اوبو سرچینی، د پخلی لپاره د انرژی منابع،د کورونو د تودوخی منابع،برق،د کورونو د چتونو مواد،دیوالونه، او د کورنیو نور ډیر معلومات او کیفتونه په ډاګه کوی.

دټولنزه دیموګرافی او اقتصادی سروی (SDES) دا وښوده چی د ۲۰۱۱ کال راهیسی په بامیانو کی ۳۶۸ زره وګړی ژوند کوی، چی ۱۹۰ زره یی نارینه، او ۱۷۸ زره یی ښځینه وګړی دی یا د جنس پربنسټ ۱۰۷ نارینه نفوس تشکیلوی او ۱۰۰ ښځینه. سروی دا په ډاګه کړه چی د بامیانو ولایت نیم نفوس ۱۶ کلن عمر لری چی په ولایت کی ځوان نفوس دی. د بامیانو ولایت د لیک لوست فیصدی ٪۳۱,۷ ده چی زیاتره یی ۱۶ کلن عمرلرونکی ځوانان دی . پدغه فیصدی کی ٪۴۵,۴ نارینه او ٪۱۶,۵ فیصده ښځینه وګړی دی. د بامیانو ولایت د لیک لوست فیصدی د هیواد له نورو فیصدیو څخه چې ٪۲۶ ټولیزه، ٪۳۹ نارینه او ٪۱۲ ښځینه ده، اوچته ده..

په پنځو فیصده ښځو کی څلور فیصده، (٪ ۸۲,۶) د لسو کلنو عمر لرونکی او له دی څخه پورته وی چی یواځی یو ماشوم یی زیږولی وو. په اوسط ډول د ۱۵ څخه تر ۴۹ کلنو

عمرلرونکیو ښځو ۴,۱ ماشومان نړی ته راوړی وو مطلب دا چې د هرو لسو ښځو ۴۱ ماشومان درلودل .

په بامیانو ولایت کی دغه سروی ۴۹,۶ زره کورنی په سروی کی ثبت کړی چی په اوسط ډول د کورنی اندازه ۷,۴ نفره وو، چی په ملی کچه دغه( ۷,۳ نفره) اندازه یو لږ څه پورته وه. نوموړیو کورنیو د خوراک د پخلی لپاره د څارویو له فضوله (خوشایی) څخه کار اخیسته او له شمسی انرژی څخه د برق لپاره کار اخیسته. د بامیانو ولایت د ٪۸۷,۸ کورونو چتونه (بامونه) له لرګیو څخه جوړ شوی . د کورونو انګړ له ۹۶,۱ ٪ فیصده له ختې څخه جوړ شوی دی او د کورونه دیوالونه د ۸۱,۷۰ فیصده له خامو ښښتو څخه جوړ شوی.

*د بامیانو ولایت په څلور کی یوه کورنی (٪۲۵,۲) پاکو اوبه ته لاس رسی درلود (د نل اوبه- ۳,۱۰ ٪) له کوهی څخه د اوبه استفاده - ۷,۵ فیصده ، له طبیعی چینو څخه - ۷,۴ ٪ چی دغه فیصدی د افغانستان د ملی اتکل (٪۲۷,۲) څخه ښکته ده.*

"په افغانستان کی د یو این اف پی ای د اداری نماینده ښاغلی لورنټ زیسلر وویل زه د احصایی مرکزی دفتر ته د نوموړی سروی په بریالیتوب او بشپړتیا مبارکی ورکوم او زه د یو این اف پی ای د اداری لخوا د بامیانو ولایت والی ته تشکر او کوروداني وایم چی د معلوماتو په راټولولو کی یی خپل ملاتړ او قوی علاقمندی اوښوده دغه معلومات د ولایتی اداری، کلیو،ولسوالی او د ولایت په کچه راجمع شویدی چی له ولایتی اداری سره به د پلان جوړونی په ډګرونو کی زیاتی مرستی وکړی. ښاغلی زیسلر وویل د یو این اف پی ای اداره دی ته چمتو ده چی له دغه سروی سره په دوامداره ډول په ټولو ولایتونو کی د سروی په ترسره کولو کی خپلی مرستی ترسره کړی او له دغو معلومات څخه کیدای شی چی د هیواد په دوامداره پرمختیا او پیاوړتیا کی ورڅخه ګټه پورته شی.

د دغه سروی پروژه د ۲۰۱۱ کال د اګست په دریمه نیټه د بامیانو په ولایت کی پیل شوه چی په پیل کی یی د نقشی له طرحی او ساحی د اندازه ګیری کارونه پیل کړل. په عین وخت کی د ۵۰۰ کارمندانو ته ، د سروی د معلوماتو رغونډولو کسانو، دولسوالی احصایوی مسولینو ته ترینینګونه ورکړل شول دغه ترینینګونه د ولایت په ټولو شپږو ولسوالیو کی د مربوطه سروی کاروکونکیو ته ورکړل شول. د شمیر مرحله د ۲۰۱۱ کال د اګست په میاشت کی پیل شوه چی دغه شمیرنه په ټولو کلیو او ولسوالیو کی ادامه درلوده. په بعضی ولسوالیو او کلیو کی د ستونزو له امله نوموړی سروی د یو نامعین وخت لپاره وغزول شوه. د شپږو میاشتو له اوږد معلوماتو د پروسیس څخه وروسته چی دغه پروسیس د د پوښتنلیکونو ایډیټ، د معلوماتو انټری،د معلوماتو د دوهم ځل لپاره تاییدول، د معلوماتو ارزیابی او تجزیی د پروسی څخه تشکیل شوی وه چی همدا اوس معلومات چمتو او ستاسو په لاس کی دی.

نوموړی پروژه په بریالیتوب د مرکزی احصایی پواسطه چی تخنیکی ملاتړ یی د یو این اف پی ای لخوا وو او مالی مرسته د جاپان له دولت څخه وه ترسره شوه. د ډنمارک دولت د نقشی ډیزاین ، طرحی او په لسټ کی د کارونو لپاره خپلی مرستی اوغوزولی

---پای---


د اړیکو لپاره پته:
ښاغلی سمیع نبی، د مرکزی احصایی د دفتر د ساحوی عملیاتو او نمونه اخستنی رییس.
اړیکی شمیره ۰۷۰۰۲۸۱۱۶۳ بریښنا پته: mohammad_nabisami@yahoo.com
**ښاغلی یونس پایاب، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق د دفتر مرستیال. شمیره ۰۷۰۰۰۸۹۶۵۷ بریښنا پته** payab@unfpa.org
ښاغلی عیدمرجان سمون، د اطلاعاتو او ارتباطاتو رییس، د احصایی مرکزی اداره، شمیره ۰۷۹۹۱۴۸۶۲۱ او بریشنا پته samooned@yahoo.com
احمدالله امرخیل، د اطلاعاتو او ارتباطاتو آمر، د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق، شمیره ۰۷۰۰۲۶۳۲۳۲، بریښنا پته amarkhil@unfpa.org